لیکوال: سراج الحق ببرک زی ځدران

۲۰۱۹/۱۰/۱۸

د یوه هیوادپال افغان لخوا د پاکستان لومړنی وزیر اعظم لیاقت علي وژنه؛ د ډیورنډ کربنې کړکیچ او افغان ولس ته د ناموس سپکاوي قضیه

دویمه برخه

پاکستاني رسنیو د لیاقت علي د وژنې په اړه د لومړۍ ورځې څخه تر ننه پورې ناسم مالومات او دورغجني خپرونې کړي دي. دوی د خپلو ناروا سیاسي موخو، د عامه اذهانو، غولو او مغشوشولو لپاره ډول ډول هڅې کړي دي، څو یوې افغان پښتون دښمنه څېړې ته یو نړیوال حیثیت وکړي. دوی دې ناولي موخې ته رسیدو په مخه په پرخه کچه له توطئو ډکې پروپاګنډې کړي دي. یوه بیلګه دا لاندې لیکنه ده. دا لیکنه څلور کاله مخکې د thefridatimes.com ویبپاڼه کې د عبدالمجید عابد لخوا لیکلې شوې ده. لیکنه ډیره اوږده ده، دلته یوه برخه راخلم .

Killing Liaquat Ali Khan

Abdul Majeed Abid
April 24, 2015
in Features, Latest Issue, April 24-30, 2015 – Vol. XXVII, No. 11

The King of United States phoned the King of Afghanistan and a plan was finalised. Syed Akbar and two other secret service officials were deputed with the task of assassinating Liaquat Ali Khan in Rawalpindi. The US wanted a Sunni Muslim Assassin so that the blame can be deflected from itself (More than half of the population of United States was Shia at the time).

According to our own investigation into this mystery, Liaquat Ali Khan's assassination was not actually conducted by Syed Akbar. Instead, an earlier version of a drone was used to kill the *ghairat-mand* Prime Minister. Our investigations revealed that a few days prior to Mr. Liaqat's death, American officials had wanted to obtain permission for using Pakistan's northern areas as a testing ground for HAARP but the request was denied. The cartridges found from Prime Minister Liaquat's body were custom made in the United States.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

Descendants of the eyewitnesses to that event recall that Liaquat Ali Khan's last words actually were, 'Et tu, Truman?'

ژباړه:

د متحده ایالاتو پاچا د افغانستان پاچا ته ټلیفون وکړ او یو پلان جوړ شوه. سید اکبر او دوه نورو استخباراتي چارواکي په راولپنډۍ کي د لیاقت علي د وژني دندی تر سره کولوته وګمارل شول. د امریکا متحده ایالات دي وژني ته د یو سني مسلمان په لټه کي و، څو له تورنو څخه ځانه لیري وساتي (په هغه وخت کي د متحده ایالاتو د نفوس نیمایي ډیر شیعه و)

ویښپانه لیکي، همدا راز زمونږ د خپلو مخفي پلټنو په بنسټ لیاقت علي وژنه واقعاًد سید اکبر لخوا نه دی تر سره شوي، بلکي د بې پیلوټه الوتکو یو نوی موډل د دي غیرتمن لومړۍ وزیر د وژني لپاره وکارول شو. زمونږ پلټنو دا په ډاګه کړي، چې د لیاقت علي له مړیني څو ورځې مخکې، امریکایي چارواکو غوښتل د پاکستان په شمالي سیمو کي د HAARP سیسټم ټستولو یا ازموینې لپاره اجازه ترلاسه کړي. خو دغه غوښتنه رد کړل شوه. د لومړۍ وزیر د جسد څخه تر لاسه شوي یا موندل شوي کارتوسونه په متحده ایالاتو کي سفارشي جوړیږي. د دي پیښي عیني شاهدانو ورځي دا یادونه کړي ده، چې د لیاقت علي ورستي ټکي واقعاً اټ تو ترووومن و؟

پاکستاني لیکوال د پاکستان په دي لنډ او جعلي تاریخ کي د لیاقت علي د وژني په اړه دي ته ورته ډیر نوري له مسخرو، له فنتزیو، دورغجنې او له پروپاګنډې ډکي تیوریکي دسیسې خپلو راتلونکو نسلونو ته لیکلي دي. د دوی د دورغجنو لیکنو او رسنیو په بنسټ نورو بهرنیو لیکوالو هم لیکني کړی دي. یوه بیلګه د یوه عربي لیکوال دا لاندې لیکنه ده.

په ۲۰۰۶ کال د جولاي په دریمه نېټه عربي لیکوال ښاغلی سید رشید حسین په یوه عربي الخبار ویښپانه,, عرب نیوز ,, کي د تیلو، ایران او هوایي ځواک اډو په اړه یوه لیکنه لیکلي ده.

عربي لیکوال د لیاقت علي وژني قضیه د خپلي لیکني د ادعاو ثابتولو لپاره د یوې تیوریکي دسیسې په ډول کارولي ده. د عربي لیکوال لیکنه ډیره اوږده ده، دلته یوازې د لیکني هغه مهمه برخه راژبارم،کومه چې د لیاقت علي د وژني سره تړاو لري.

سید رشید حسین لیکي: په دي ورستیو کي د متحده ایا لاتو د بهرنیو چارو وزارت لخوا یو معتبر سند خپور شوي دی. دغي معتبر لاسوند د لیاقت علي د وژني په اړه ځېني په زړه پوري حقایق روښانه کړي دي. د دي سند په حواله، په ۱۹۵۱ کال کي د اکتوبر په دیر شمه نېټه په نوي ډیلي کي د امریکا سفارت لخوا مورس ته یو ټلیګرام را ولیږل شو.

لیکوال لیکي؛ ,, ایا د لیاقت علي خان وژنه د امریکا د ژور ریښیه ییزو سازیشونو یا توطئو پایله ده ؟ ایا د دي ټلیګرام په بنسټ د امریکا په وړاندې د لیاقت علي وژني د مسوولیت اخیستلو دعوا کیدای شي ؟.

لیکوال بیا په لنډیزکي د یو بل لیکوال د ندیم په نامه مقاله کي ذکر شوي حقایقو ته په اشاره کي لیکي: دا نه سیمه ییزه پیښه وه او نه دا وژني د پښتون ژغورنې له غورځنګ سره تړاو درلود (لکه څنګه ځینو خلکو او ممکن ځیني وختونو په دي باندې باور شوي دی) بلکي د دي وژني تر شا یوه ژوره دسیسه یا توطئه وه او د پېژندلو وړ یو لاس په کي شتون درلود.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

په دې مقاله کې بيا راغلي، چې د هغمهال افغان حکومت د دغې توطئې يا دسيسې په اړه خبر وه او پوهيدو. ځکه وژونکي يو افغان وه. خو دا توطئه نه په کابل او نه په کراچۍ (د پاکستان د هغه مهال پلازمينه) کې جوړه شوې وه. د دې خپور شوې او تر لاسه شوې لاسوند له مخې، په کراچۍ کې د امريکا سفارت سکرټر د پيښې په ورځ له وژنې د مخه غير حاضر وه. هغه د اکتوبر ۱۹ مه نېټه په خپل يادداشت کتابچه يا دائري کې عمومي رخصتي ليکلې وه او بيا يې سمدستۍ ترينه لرې کړې وه.

د سکرټر تر تللو ورسته په کراچۍ کې د امريکا په سفارت کې يو پاکستاني کارمند محمد حسن د انګريزي سکرټر څخه د رخصتۍ په اړه پوښتنه وکړه، انګريز سکرټر په ځواب کې ورته دا خبره يوه ممکنه يا احتمالي تيروتنې تشريح کړې وه

په هر صورت، مانا دا چې، سکرټر پوهيدو، داکتوبر په ۱۷ مه نېټه به د امريکا سفارت ټرلې وي. که څه هم په دغه ورځ هيڅ يوه امريکايي او پاکستاني عمومي رخصتي نه وه پلان کړې.

ليکوال بيا د نديم په کيسه کې بل ټکی ته ګوته نيسي، لکه څنګه چې په مستند تر لاسه شوې لاسوند کې راغلي دي، کله چې په کراچۍ کې د امريکا سفير د لياقت علي ميرمن (رانا لياقت علي خان) ته په ټيلفون کې د پيښې په اړه خپله خواشيني څرګنده کړه، شا وخوا دري نيمې دقيقې وړاندې د پاکستان ګورنر جنرال خواجه ناظم الدين په دې توانيدلي وه، څو دی هم خپله خواخوږي وړاندې کړي. دا په داسې حال کې د پاکستان ګورنر جنرال لومړنی کس وه، چې د راولپنډۍ چارواکو څخه د وژنکې پيښې خبر تر لاسه کړې وه.

په ريښتيني مانا هغه مهال ملفون يا موبيلي اړيکي شتون نه درلودې. تلويزويوني ژوندۍ خپرونې هم شتون نه درلودې. دامهال بل وخت وه، د نن ورځې په پرتله د مالوماتو بهير خورا ټڅ او ورو و.

هغه پوښتنه چې دا ورځپاڼه هڅه کوي په دې مقاله کې مطرح کړي او يا راپورته کړي. هغه داده، څنګه مخکې له دې چې د پاکستان ګورنر جنرال خبر کړل شي، د متحده ايالاتو سفير د لياقت علي د وژنې په اړه خبر تر لاسه کوي؟

ورځپاڼه د خپلې مقاله په پای کې په ټوليزه توګه د متحده ايالاتو له لورې په خپاره شوې لاسوندونو، د پاکستان لومړی وزير او د هغه حکومت سره د متحده ايالاتو او انګلستان حکومتونو احتمالي ناخوښي لاملونو په اړه بحث کوي، ورځپاڼه ليکي: لياقت چمتو نه و، څو د متحده ايالاتو تګلاره پلي کړي، له دې امله متحده ايالاتو غوښتل، دی له منځ يوسي.

مقاله ليکي لياقت علي د امريکا غوښتنې رد کړې، په داسې حال کې انګلستان پاکستان دې ته هڅاوه، د ايران په مسله کې له دوی سره مرسته وکړي، د امريکا متحده ايالاتو له پاکستان غوښتل، څو خپل اغيز په ايران کې وکاروي او دوی په دې قانع کړي، څو ايران خپلې د تيلو زيرمې کنټرول امريکايانو ته وسپاري. له دې مهاله تيل امريکايانو لپاره يوه ستره ستونزه ګرځيدلې ده.

د مقالې په حواله لياقت علي د امريکايانو غوښتنې رد کړې. امريکايانو د کشمير پټ ټرون (د امريکا او پاکستان ترمنځ ټرون) لغوه کولو ګواښ وکړو. لياقت علي په ځواب کې ويلي و. پاکستان د امريکايانو د مرستې او همکاري پرته نيم کشمير له ځانه سره ضميمه کړي دی، دوی کولې شي نيم نور هم اشغال کړي. هممهاله لياقت علي په پاکستان کې د امريکا هوايي پوځي اډو تشولو ګواښ هم کړی و.

د لياقت غوښتنې د واشنګټن لپاره يو بمي ګواز و، امريکايانو په پاکستان کې د خپل هوايي ځواک درلودلو له امله د شوروي اتحاد فتحه کولو خوبونه ليدل.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

مقاله ليکي: امريکايان ډير په قهر او حيران شول، له دې امله امريکايانو غوښتل لياقت علي ووژني، دا وژنه د دوی يوه تيورېکي دسيسه او توطئه وه.

له دې ورسته امريکايانو کابل ته مخه کړه، واشنګټن په کابل کي د متحده ايالاتو له سفارت سره اړيکه ونيوله. دوی په پايله کي د پښتونستان له مشرانو سره اړيکي او تماسونه ونيول. لياقت علي د دوی ترمنځ يوازيني خنډ بلل شوي و او هغوي (پښتنو) ته ډاډ ورکړو اوغوښتنه يې ترينه وکړه، که د دوی څخه يو څوک لياقت علي ووژني، امريکا به تر ۱۹۵۲ کاله د پښتونستان د جوړيدو دنده په غاړه واخلي.

- د لياقت علي د وژني په اړه يوه بله تيوريکي ليکنه په دهلي کي ليکلي شوي ده.

دا ليکنه په ۱۹۵۱ کال د اکتوبر ۲۵ نېټه ساعت د ګهيځ په ۷ بجو ليکلي شوي ده. دا مهمه ليکنه د جرمني د ځيټ انلاين ويبپاني په ارشيف کي اوس هم شته. ليکنه په ۲۰۱۲ کال کي د نوامبر په ۲۱ نېټه، په ۱۶:۱۶ بجو کي يوار بيا له سره تازه خپره شوي ده.

جرمن خبريال B.J. Modi تر دې سرليک لاندې په جرمني ژبه کي خپله مقاله ليکي ده. دلته کټ مټ راکاپي کوم.

Warum Liaquat ermordet wurde

25. Oktober 1951, 7:00 Uhr Aktualisiert am 21. November 2012, 16:16 Uhr
AUS DER ZEIT NR. 43/1951

Delhi, im Oktober

Die Ermordung des Premierministers von Pakistan, Liaquat Ali Khan, hat plötzlich einen erbitterten Streit ans Tageslicht gebracht, der sich bisher fast unbemerkt im Dunkeln abspielte. Niemand war sich hier über die Macht einer Bewegung im klaren, die an dem immer gespannter werdenden Verhältnis zwischen Pakistan und Afghanistan die Schuld trägt und deren Ziel es ist, einen eigenen Staat zu bilden – : Pathanistan. Das hat sich jetzt schlagartig geändert.

Die Pathaner sind ein Volk von über 10 Millionen Menschen, die zwar nach Volkstum und Sprache zu den Afghanen gehören, aber heute zum größten Teil in Pakistan leben. Von den dort lebenden sieben

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

Millionen Pathanen\ wohnen drei Millionen im gebirgigen Nordwestteil des Landes, der *North-Western-Frontier.* Und sie sind es, die seit jeher selbständig sein wollten.

Mit Rücksicht auf eine mögliche Erhebung der Pathanen im Grenzgebiet verzichtete Pakistans Ministerpräsident Liaquat Ali Khan auf einen für den 9. September vorgesehenen Einfall in Kaschmir. Er fürchtete, daß die Pathanen diesen Moment benutzen könnten, um einen eigenen Staat zu bilden. Noch in der letzten Woche vor seiner Ermordung empfing er daher den persischen Botschafter aus der afghanischen Hauptstadt Kabul, der nach Karachi gereist kam, um mit ihm die dem pathanischen Problem entspringende Verschlechterung der pakistanischafghanischen Beziehungen zu besprechen.

Nach dem Besuch des persischen Botschafters geschah in der gleichen Woche noch ein zweites, nicht weniger wichtiges Ereignis. In Kabul trat der afghanische Innen- und Kriegsminister General Dawood Khan zurück, ein Vetter und Schwager des Königs. Dawood Khan ist Pathaner. Und seinem Einfluß soll es zuzuschreiben sein, daß sein königlicher Schwager kürzlich erklärte, Afghanistan sei bereit, um Pathanistans willen gegen Pakistan in den Krieg zu ziehen.

Allein die Beschwichtigungs-Besprechungen Liaquat Ali Khans in Karachi, und das Ausscheiden des pathanischen Scharfmachers Dawood Khan in Kabul aus Protest gegen die auf (Versöhnung mit Pakistan gerichtete Politik seines Ministerpräsidenten, haben zu keinem Ergebnis geführt. Liaquat Ali Khan wurde ermordet...

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

B. J. Modi

ژباړه :

ولي لياقت علي ووژل شو.

د پاکستان د لومړي وزير لياقت علي خان وژنې ناڅاپه يوه ګرانه پيچلي کړکيچنه شخړه راپور ته کړي ده، چې تر دې دمه په تورو تيارو کې لوبيده او د هيڅ چا پام ورته نه دی شوي. هيڅوک د هغې مخ په راويښيدونکي غورځنګي ځواک په اړه نه پوهيدل، کوم چې د پاکستان او افغانستان تر منځ د مخ په زياتيدونکي ترينګلي اړيکو مسوولیت په غاړه لري. د دې غورځنګ موخه، د يو خپلواک لوی پټانستان يا افغانستان جوړيدل يا رامنځ ته کول دي. وسمهال په ناڅاپي ډول هر څه بدل شول.

پټانان تر لسو ميليونو ډير وګړيزه يو ملت دی. دوی په توکمېزه او ژبنيزه توګه افغانانو پورې اړه لري. خو نن د دوی يوه ستره برخه په پاکستان کې ژوند کوي. هلته د اووه ميليونو اوسيدونکو پټانانو څخه دري ميليونه پښتانه د دې هيواد په شمال لويديځ کې په غرنيزو سيمو کې ژوند کوي.

نور پښتانه په North- Westeren – Frontier يا پښتونخوا کې ميښت دي. دا هغه خلک دي، دوی تل غواړي خپلواک واوسي او خپلواکی غواړي او دې موخې ته د رسيدو لپاره هلې ځلې او هڅې کوي.

د همدې کال د سپتمبر په نهمه نېټه د پاکستان لومړي وزير لياقت علي د صوبه سرحد په سيمه کې د پټانانو د احتمالي پاڅون د ويرې له امله په کشمير باندې پوځي يرغل رد کړو. هغه ويره درلوده، چې دا شوني ده، پښتانه به دا احتمالي شېبه د خپل دولت جوړولو لپاره وکاروي او خپل خپلواک دولت به اعلان کړي.

د لياقت علي تر وژل کيدو يوه اوونۍ مخکې، هغه د افغانستان پلازميني کابل څخه د يو فارسي ژبې سفير ملا تړ ترلاسه کړو. افغان سفير د پټانانو يا پښتنو د ستونزو په اړه او همدارنګه د افغانستان او پاکستان ترمنځ د مخ په خرابيدونکي اړيکو په اړه د خبرو اترو لپاره کراچۍ ته تللي و.

د افغان سفير له ليدني ورسته په همدې اوونۍ کې لږ څه مهمه دويمه پېښه هم پېښه شوه. هغه په کابل کې د افغانستان د کورنيو وزير او د حربي وزير جنرال داوود خان استعفا ورکول وه. داوود خان يو پټان يا افغان و او دی د افغانستان د پاچا د تره زوی و. داوود خان هغه مهال يوه لنډه وينا وکړه او اعلان وکړو، چې افغانستان دې ته چمتو دی، څو د پښتونستان مسلي يا آزادۍ لپاره د پاکستان په وړاندې جګړې ته لاړ شي.

په کراچۍ کې د لياقت علي خان استيضاحي غونډې رابلل او په کابل کې د داوود خان په زغرده توند خبرداری او د احتجاج په توګه روانيدل يا استعفا ورکول، دا ټول د پاکستان په وړاندې يو پروتست يا احتجاج و او د پاکستاني لومړي وزير د پخلاينې د پاليسي خلاف يو غبرګون و. دوی کومې ځانګړې پايلې ته سره ونه رسيدل او خو په پای کې لياقت علي خان ووژل شو.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

يو عيني شاهد سلمان نثار شيخ د لياقت علي خان د وژنې ريښتني داستان داسي بيانوي

لیاقت علي خان کا قتل ایک حقیقی داستان، نېټه 01:03.2019

اکتوبر 1951 کے روز لیاقت علی خان کو لیاقت باغ جلسہ عام سے خطاب کرنا تھا۔ میں سری نگر میں محمودہ احمد علی شاہ کے گھر میں لیاقت علی سے مل چکا تھا لہٰذا مجھے ان کی تقریر سننے کا شوق چرایا، میں صبح سویرے ہی گھر سے نکل کھڑا ہوا۔

بھی کرسیاں لگائی جا رہی تھیں، شامیانے سیٹ کئے جا رہے تھے، میں جلسہ گاہ پہنچ گیا اور اسٹیج کے بالکل سامنے پہلی رو میں ایک کرسی پر قبضہ کرلیا۔ چند لمحے بعد میرے دائیں طرف ایک پٹھان آکر بیٹھ گیا، اس کے ساتھ اس کا چھوٹا سا بیٹا بھی تھا۔ میں نے اسے غور سے دیکھا تو وہ سید اکبر تھا، میں اسے سری نگر سے جانتا تھا، یہ لوگ افغانستان سے ہجرت کرکے سری نگر آئے تھے، ڈل گیٹ میں رہتے تھے۔ میں ان کے خاندان کے اکثر بچوں کو جانتا تھا، میں نے سید اکبر کو سلام کیا اور سری نگر کا حوالہ دے کر گفتگو شروع کر دی۔ وہ مجھے پٹھانوں کے روایتی تپاک سے ملا اور اپنے بیٹے سے میرا تعارف کرایا۔ ہم نے سری نگر کی باتیں شروع کر دیں۔''مجھے وہ گفتگو کا بڑا ماہر، متحمل مزاج اور پُرخلوص انسان لگا۔ ہم باتوں میں اس قدر محو تھے کہ لوگ کب آنا شروع ہوئے، پنڈال کب بھرا، اسٹیج پر مسلم لیگی رہنما کب تشریف لائے اور جلسہ کب شروع ہوا، کچھ پتا ہی نہ چلا۔ البتہ سید اکبر کبھی کبھی کنکھیوں سے اسٹیج کی طرف ضرور دیکھ لیتا تھا۔ پھر جلسہ شروع ہوگیا۔ اسٹیج سیکریٹری نے کارروائی شروع کی، ایک ایک مسلم لیگی رہنما تالیوں اور نعروں کے شور میں ڈائس پر آتا اور دھواں دھار تقریر جھاڑ کر واپس چلا جاتا، یہاں تک کہ وزیراعظم خان لیاقت علی خان کا نام پکارا گیا۔ وہ مسکراتے ہوئے اپنی نشست سے اٹھے، ڈائس پر آئے، ہاتھ ہلا ہلا کر عوام کے نعروں کا جواب دیا۔

جب عوام کا شور تھما تو خان لیاقت علی خان نے کہا ''میرے عزیز ہم وطنو! السلام علیکم'' اور ساتھ ہی میری بغل میں بیٹھا سید اکبر اٹھا اور ''ڈب'' سے ریوالور نکال کر لیاقت علی خان پر گولی چلا دی، میری آنکھوں کے عین سامنے سید اکبر نے ریوالور کی چھ گولیاں وزیراعظم پاکستان کے سینے میں اتار دیں۔ لیاقت علی خان نے چیخ ماری اور خون میں لت پت ہو کر گر پڑے۔ جلسہ گاہ میں بھگدڑ مچ گئی، لوگ اٹھ کر بھاگنے لگے، اسی اثناء میں

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

اسٹیج پر کھڑا پولیس افسر لوگوں کو پھلانگتا ہوا سید اکبر کے پاس پہنچا، سید اکبر نے بڑے تحمل سے اپنا خالی پستول اس کے ہاتھ میں دے دیا لیکن پولیس افسر نے اسے گولی مار دی۔ سید اکبر کے منہ سے بڑی کربناک چیخ نکلی اور وہ میرے قدموں میں گر کر تڑپنے لگا، اتنے میں وہاں برچھی بردار رضاکار پہنچ گئے۔ پولیس افسر نے انہیں دیکھ کر حکم دیا ''اس ذلیل انسان کے ٹوٹے ٹوٹے کر دو،'' اور پھر میرے دیکھتے ہی دیکھتے رضاکاروں نے اپنی برچھیوں سے سید اکبر کی لاش کا قیمہ بنا دیا، چند لمحے بعد وہاں سید اکبر کی لاش کے چھوٹے چھوٹے ٹکڑے، دور تک پھیلی لہو کی لکیریں، الٹی سیدھی کرسیاں، شامیانوں کی ٹوٹی طنابیں، تاحد نظر بکھری ٹوپیاں اور جوتے پڑے تھے جبکہ سٹیج پر ''سابق'' وزیراعظم کی آڑی ترچھی لاش اور اس کے بالکل سامنے میں، سید اکبر کا بیٹا اور وارث خان کا ایک بے ڈھول قصاب ساکت کھڑے تھے۔ چیخ میرے ہونٹوں پر جمی تھی اور آنسو سید اکبر کے بیٹے کی پلکوں پر ٹھہرے ہوئے تھے۔

ژباړه: د لياقت علي خان د وژنې ريښتني داستان .

په ۱۹۵۱ کال کې د اکتوبر په شپاړسمه نېټه لياقت علي خان بايد په لياقت باغ کې يوې غونډې ته وينا وکړي. ما او لياقت علي په لومړۍ ځل په سړی ناګر کې د محمود احمد علي په کور کې سره ولیدل. ما د هغه د خبرو اوريدو سره مينه لرله. ګهيځ وختی له کوره ووتلم. غونډې ته د رسيدو سره سم، ګورم، چوکې سيوري ته تياري جوړې ايښودلې شوې دي. ما د غونډې په لومړي قطار کې يوه چوکۍ نيولې وه. يو څو شيبې ورسته يو سړی زما ښيې خوا ته راغې او د خپل کوچنې زوی څنګه ته کيناست. ما دغه سړی په ځير سره وکوت،هغه سيد اکبر و. ما هغه له سړی ناګر څخه پيژندو. دوی له افغانستان څخه راګډوال شوي وو.په ډال ګيټ کې اوسيدل. ما د هغې کورنۍ ډيرې ماشومان پيژنده. ما سيد اکبر ته سلام وکړو او دسړی ناګر په حواله مې خبرې اترې ورسره پيل کړې. هغه زه په دوديزه پتنګ کې ليدلې وم او خپل زوی ته يې وروپيژندلم . موږ د سړی ناګر په اړه خبرې پيل کړې.

ما ډير ژر په ده کې يو ډير مينه ناکه، مخلص، صميمي او د افهام تفهيم وړ سړی وموند. موږ ډير مايوسه شولو، کله چې خلکو راتلل پيل کړل. ځايونه ډک شول، د مسلم ليک مشران سټيج ته وختل او د غونډې د بهير پيلدو په اړه څوک نه پوهيدل.

په هرصورت، خو کله کله په خبرو کې سيد اکبر د اوږه په سر د سټيج خوا ته کتل. د غونډې بهير د سټيج ويانډ لخوا عملاً پيل شو. د مسلم ليک يو مشر په نارو سورو او شعارونه ورکولو سره د وينا لپاره سټيج ته په خندا کې راغې. د خبرو سره تر خولې لوګې خټلو، آن کله چې د لومړي وزير لياقت علي نوم واخيستل شو. هغه په موسکا سره د خپلې چوکۍ څخه راپورته شو. دريځ ته راغې، خپل لاسونه يې ښورول او د خلکو شعاورنو ته ځواب ويلو. لا د خلکو شورماشور اوريدل کيدو.

لياقت علي خان وويل: زما ګرانو هيوادولو! سيد اکبر زما په څنګ کې ناست و. راپورته شو، د ډوب , يا د جيب څخه تومانچه راويستله او په خپله تومانچه په لياقت علي خان باندې ډزې وکړې.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

زما د سترګو په مخ کې سید اکبر د پاکستان لومړي وزیر سینې ته د تومانچې په شپږ ګولۍ وویشت. لیاقت علي خان چیغې کړې او په وینو کې ولوبید او وغورځیدو. په داسی حال کې چې د غوندې خلک راپاڅیدل او وتیښتېدل. هممهاله په سټیج کې د پولیسو یو افسر سید اکبر ته ورنږدې شو،کله چې خلک وربانديِ راټول شول یا ودریدل، سید اکبر په ډیر زغم او صبر اوحوصلې سره خپله وسله او د سلې کمربند په خپلو لاسونو کې ونیول او پولیس ته یې ورانديِ کړل. خو د پولیسو افسر ډزې پرې وکړې. د سید اکبر له خولې یوه غږ پورته شو او زما په پښو کې وغورځید. په داسی حال کې چې مرستندویه خلک را ورسیدل، کله چې پولیس دغه مرستندویان ولیدل، دوی ته یې امروکړو، دا سپکاونکی سړی مات کړئ. او بیا یې زما په لیدو رضاکارانو د خپل نیزو یا چاړوسره د سید اکبر د مړ بدن قدردانۍ وکړو.

د سید اکبر خان ببرک زی ځدرانِ یوولس کلن زوی په سترګو کې به خامخا رنې رنې اوښکې بهیدلې وې .....

افغان سیدا کبرخان د افغانانو د شان شوکت او ننګ ناموس په ننګ کې په خپلو سپینو جامو کې سور رنګ شو.

د دویمې برخې پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ